# شاعر او ادیب خوشحال خان

پښتو شعر تر خان دمخه:-

هغه وخت چي خوشحال خان په دنیا کښي د ادب و پښتو ژبي ته یو مخلد او جاوید خدمت کاوه په دغه وخت کښي د پښتو ژبي ادب ډېر محدود وُ، د پښتو د ادب د ژوندون تاریخ درې برخي لري:

(۱) لومړۍ دوره خو له ابتداء څخه بیا تر نهم هجري قرن پوري ده، چي په هند کښي د مغلو او په ایران کښي د صفوي کورنۍ پاچهي وه، تر دغه دمخه د پښتو اشعار ټوله طبیعي او غیر مصنوعي وه او هغه سندري او نارې وې، چي د طبیعت تر اثر لاندي به پښتنو ویلې، د اتڼ نارې، لنډۍ، سپرې بدلي او نور اقسام چي اوس هم سته، د دغه عصر ادبي آثار دي.

(۲) دوهم دوره چي د مغولي بابر او د هند د پښتنو پاچهانو لودینانو له آخره عصره څخه (۹۳۰ هـ) بیا تر (۱۰۰۰ هـ) پوري رارسیږي، دغه اویا یا اتیا کاله د پښتنو شعر نیم مصنوعي دی، یعني نه پوره پر زاړه حال طبیعي دی او نه پوره د صنعت او عروض او قافیې تر اثر لاندي سوی دئ، په دغه دوره کښي ډېر ادباء او لیکونکي سته، لکه اخوند درویزه د ننګرهار، شیخ مالي یوسف زی، اخوند قاسم، ملا الف هوتك، کریم داد، بازید (پیر روشن) چي د دغو ټولو اشعار نه پوره عروضي دي او نه پوره طبیعي.

(۳) دریېمه دوره د پوره عروضي او مصنوعي اشعارو ده، چي پښتنو ادیبانو خپل شعر پر عروض او قافیه او فنونو د بلاغت برابر ویلی دی، او له دغه عصره څخه چي اوس درې نیم سوه کاله کیږي د پښتو اشعارو عروضي دوره شروع سوې ده، په دغه دوره کښي تر خوشحال خان دمخه میرزا خان انصاري، او ارزاني او دولت او واصل او قلندر تېر سویدي، چي خان یې پخپله ذکر کوي:

د میرزا دېوان مي ومانډه په ګـــــوډې
مسخره مي ارزاني خویشکی زمند کړ

خوشحال خان د ادبي مکتب مؤسس:-

تر خوشحال خان دمخه که څه هم څو تنو عروضي اشعار ویلي د مګر هغه خدمت چي خان پښتو ته کړیدی، او په دغه اندازه ډېر اشعار چي ده ویلي او پرې ینبي دي له نورو څخه نه دي لیدل سوي، د ده اشعار تقریباً څلوېښت زره بیته ته رسیږي او هغه انقلاب چي ده د پښتو ژبي شعر ته ورکړیدی، نو دی هرکله په حیث د مؤسس او پلار د پښتو شعر منل کیږي، تر ده وروسته چي ټوله ادباء راغلي دي په فکر او ډول کښي یې دی مقتدا دئ، د ده له نسله څخه نور مقتدر ادیبان هم پیدا سویدي چي مور بې پر خپله موقع ذکر وکړو.

شعر او شاعري خو د انسان په خټه اخښلي سوېده، او ادب د انسانیت یو لوی او مهم جز دئ لکه ارسطو د یونان فیلسوف چي ادب د فطرت محاکات او نقل د انساني تاثراتو بولي، دغسي هم د پښتو ادب ټوله پر دغه کلیه باندي بناء سویدی، خاص بیا د خوشحال خان ادبیات او آثار ټوله حاکي له هغو ذهني تاثراتو څخه دي، چي ماحول او محیط د ده په زړه کښي کرله، دی د فطرت ترجمان او د طبیعت ویونکې ژبه ده، هر څه چي ویني هغه په ښه ډول په وینا تصویر کولای سي.

خوشحال خان په هر راز شعر کښي قوي لاس لري، عشقي، اجتماعي، فلسفي، وطني، اخلاقي او حماسي اشعار ډېر لري د انساني فضائلو او د پښتنوالي د ښیګړو په بیان کښي خوشحال خان یو پوره مورالیست،

اخلاقي او رياليست (حقيقي) اديب دی، په نقد او ادبي شجاعت کښي هم ساری نلري، او په دنيا کښي د خياليت او ايدياليزم هم دومره جګ دی چي لږ نور څوك پسي رسګېدلای سي. خوشحال خان مؤسس د هغه ادبي مکتب دی چي وروسته ټولو د پښتو ويونکو او ژبه ورو خلکو د ده تقليد کړيدی، دی د خپل سبك استاد دی، نو ځکه موږ ورته د پښتو پلار ويلای سو:

ما خوشحال چي په پښتو شعر بيان کړ
د پښـــتو ژبه به اوس په آب و تاب شي

د فکر قهرمان:-

د شاعر او اديب نظر تر نورو رسا دی هغه چي شاعر يېويني هر څوك يې نه ويني په پسرلي چي سره او زرغونه ګلان له مځکي څخه راووزي وګړي خو دا ګلان د ننداريٖ او خوند په سترګه ويني، نشاط او خوښي ځني مومي، مګر شاعر عبرت ځني اخلي او ګوري چي دا خاوره چي نن ګلان ځني غوړيږي پرون دکوم انسان د بدن خاوره وه ...! دا فکر په شاعري کښي خورا زوړ دی هر چا څه پر ويلي دي، ابوالعلاء معری (٤٤٩ هـ) د عربی مشهور فيلسوف ژبه ور وايي:

حفف الوطاء ما اظن اديم ال
ارض الامن هذه الاجـــــساد
و قبيح بناء و ان قدم العــهد
و هــو ان الآباء والاجــــــداد

يعني: قدمونه پر مځکه ورو ورو ږده چي دغه مځکه زموږ د نيکونو بدنون او اجساد دي. د ادباء تر منځ توراد او د فکر توافق دی، عمر خيام بلخي هم دغه مضمون ښه ويلی دی:

هر سبزه که بر کنار جوئی رستــــه است
ګوئی زلب فرشته روئی رستـــــه است
تا بر لب سبزه پا بخواری ننـــــــــــهی
کان سبزه زخاك لاله روئی رســته است

سعدی هم وايي چي يوه ورځ مي تر ښځ پر مځکه و وهله، دا ږغ ځني راغی:

که زنهار اګــر مردی آهستـــــــــه تر
که چشم و بنا ګوش و روی است و سر

د هندوستان مشهور اديب غالب دهلوي هم دا مضمون داسي وايي:

سب کهان کچهہ لاله وګل نمايان هوګـــــــــئين
خاك مين کيا صورتين هونګی که پنهان هوګئين

يعني په خاوره کښي چي کښلي بدنونه پټ سويدي، له هغو څخه لږ اوس د غاټوی په شکل راوتلي دي. د خوشحال خان زوی عبدالقادر خټك هم دا مضمون په ښو داسي ويلی دی:

قدم په ورو ورو په احــــــتياط ږده
چي توري خاوري کښلي مخونه دي

مګر خوشحال خان په فکر کښي مبتکر دی، دا زوړ فکر ده په نوي ډول اما خورا خوږ اداء کړيدی چي زما په عقيده تر ټولو ادباء اوړي، که د نقد په سترګه ورته وګورو، البته راښکاره به سي، خان وايي:

چي هونبره ښه مخونه په دا خاورو کښي پهګور دي
چي ديو لره وردرومـم ګـــــــــــور و ما وته ارم دی

وګورئ مضمون هغه مبتذل او زوړ مضمون دی مګر د پښتانه فکري ابتکار خو د نورو تقليد نه مني، خان هغه مضمون په داسي ډول ادا کی، چي ساري نلري. نو خوشحال خان لکه د توري او ميدان قهرمان چي دی دغسي د فکر او ادب قهرمان هم دی که د خبرو له اوږدوالي څخه نه ببرېدای پر دغه موضوع به مو اوږده څېړنه کړې واى، مګر اوس په دغه قدر اکتفا کوو.

پښتون خوشحال خان:-

هر ملت ځانته ځني خواص او مزايا لري، چي هغه نو مايه د افتخار د ده وي، د هر ملت پسيکولوژي (روحيات) بېل دي، او اخلاق او دودونه يې له نورو څخه جلا دي، چي په هغو سره پېژندل کيږي، او په هغو اخلاقو سره لوړيږي، يا کښته کيږي، د علم الروح پوهان خو دغه اخلاق او مزايا او ملي خواص د ملتو د ژوندون ستهٔ ګڼي، او وايي چي هيڅ ملت بېله خپلو ښېګړو ژوندی نه پاتيږي.

انما الامم اخلاق ما بقيت
فان ذهبت اخلاقهم ذهبوا

پښتون خو يو اصيل ملت دی، او هرکله په خپلو ښېګړو ژوندی دی، د پښتون مليت او ملي خواص ټوله پښتنواله بولي، او په پښتنو کښي پښتنواله مخصوص اصول او قوانين لري.

د پښتو لار د پښتنو زوړ اجتماعي ميرات دی پخوانيو پښتنو ټولو تر دغو اصولو لاندي ژوندون کاوه، خوشحال خان خو د پښتنو اديب دی نو د ده کلام هم د پښتنوالي ډک دی، د پښتو او پښتنوالي خواص او مزايا خورا ډېر دي، چي جلا کتاب غواړي، مګر موږ دلته د خوشحال خان د وينا د پښتنوالي خوا ښکاره کوو:

(۱) پښتون خو فطرتاً په اخلاقو او اجتماع کښي عاجز دی او بې ځايه کبر نلري، مګر دا تر هغه وخته پوري چي څوك د ده پر حقوقو تجاوز ونه کي، د پښتنوالي حکم دا دی، چي پښتون پر ځان باندي د بل تعرض نسي منلای، خوشحال خان دا د پښتو لار داسي ښيي:

که په توره يې جواب ورکړې مـــــردي ده
چي وجود دي څوك آزار کاندي په چوب

(۲) په ګرانو چارو او مشکلاتو کښي ټينګار او ثبات د پښتنوالي لوی رکن دی، پښتون سر بايلي، مګر ميدان نه پرېږدي، خوشحال خان پخپله هم د دې ميدان زمری دی، ده اويا کاله په پښتنواله د ډېرو ناورينو سره د زمري په څېر مقابله کړېده، دی وايي:

په جهان د ننــــګيالي دي دا دوه کاره
يا به وخوري ککرۍ يا به کامران شي

دی دومره پر ځان ويسا او اعتماد لري چي فقط ځان د ټولو مصائبو په مخکښي کافي کړي:

د مزريو مړنتوب په لښـــــــکر نه وي
مېږ يې هرکله يوازي پخپل ځان شي

دی د مقصد په لارکښي تر دې حده د زيار طرفدار دی:

تر مطلوبه پوري شرط د رسېدو دی
کــــه تمامه لار په وينو سي آلـــوده

پښتون د هر راز مشکل په مقابل کښي نه ښايي چي د همت لار پرېږدي :

که آسمان دي د مزري په خوله کښي ورکا
د مزري په خوله کښي مه پرېږده هــــــمت

خوشحال خان د مغولو په مقابله کښي ډېر ټينګار وکړ په پای کښي چي د هغو په لاس کښېووت هم د ده د

پښتنوالي غرور او د نفس لوړتيا د هغو مظالمو نکړه ور ماته. بلکي د بنديخانې څخه د مغولو هم خپلو زامنو ته ډاډ ورکوي، د ده حماسي افکار دلته ښه ځرګنديږي، چي تاسي دا منظوم مکتوب ولولئ:

په مردن پــــــــروا دار نــــه يم
په زنـــــــدان پروا دار څــه يم
اشرفخان دي راته کښـګـــــــلي
څه خو خوښ په خط د ده يــــم
پنځه مياشتي يم په بند کښي
بابا ډيــــــــــر ډاډه په زړه يم
زويه ما خو غــــــــــم د تا کړ
چي ته ښه يې زه خـــــو ښه يم
چي فلـــــــــــک سره سر باسي
په همت کـــــــــښي هغه زه يم

دا مکتوب په بند کښي خان د خپل زوی اشرف خان په جواب کښي ليکلی دی. خوشحال خان هغه زړه چي د مشکلاتو په مخ کښي ولويږي د سره زړه نه بولي:

واړه زړونه فراغت وي په ښادي کښي
چي په غم کښي مردانه سي زړه هغــه

(۳) رشتيا: -

په پښتنواله کښي رشتيا ډېر اهميت لري، درواغجن ته پښتون نه ويل کيږي، خوشحال خان د رشتيا په لار کښي و هر راز تاوان ته ولاړ دی، که څه هم په رشتيا کښي خلك د ده سره ميرځي کوي، مګر دی تر رشتيا نه تيريږي:

چي ځوان وم دا يم زوړ سوم په رشتيـــا رشتيا خبرو
عالم د ځان دښمن کړم که دا عيب وي هم دي وسي

خان د درواغجن خوله اصلاً خوله نه بولي، د ده په مذهب او د پښتنوالي له پلوه خوله هغه ده چي رشتيا وايي:-

چي دروغ تر خوله وباسي کله خوله ده
چي رشتيا تر خوله وباسي خـــوله هغه

(٤) ننګيالي توب او مېړانه:-

ننګ او مېړانه هغه شيان دي چي د پښتنوالي ولي پکښي ولاړي دي، که دغه نه وي، پښتنواله هم قطعاً نسته، پښتون د ننګي پر لار سر ورکوي، اما بې ننګي نسي منلای (په تور توپك ويشتلی راسې ـ د بې ننګۍ احوال دي مه راځه مينه) د پښتنوالي دا مزيت او د پښتنو دا خاصيت هغه ملي مميزه ده چي د دوی ثانوي طبيعت ګرزېدلی دی، د پښتون ژوندون چي په ننګه او پښتو او مېړانه نه وْ، داسي ژوندون ژوندون نه بولي:-

ورځه ورځه تر دکـــــــــــــــــن تېر سه !
د بې ننګانو تر ژوندون ښه دي مرګونه

خوشحال خان هم د ننګي د لاري لېونی دی د ده کلام د پښتنوالي دا خاصيت په ښه ډول تشريح کړی، دی د پښتو د مېړاني حقيقي معرف دی، لکه چي وايي:-

ننګيالي د ننــــــــګ لپاره
په هر څه لـــــــــــــګوي اور
سر په باد د ســــــــړي پرېوزه
چي يې نه وي ژونـــدون نور
چي په نام و ننـــګ اړ نه وي
که تل ژوی مـــــــــخ يې تور
سر په دار لك سوی ښه دی
نه لك سوی پر پېګـــــــــګگغور

د ننګ سره دا تړلې ده، چي د سړي همت به لوړ وي، او طمع به نه لري، خوشحال خان هم د پښتنوالي د ننګ په دنيا کښي ډېر مستغني دی، د ده په نظر خپله غړکه تر سلطنت هم ښه ده:-

چي سړې شنوبي يې څښم په وخت د اوړي
بادشاهي د اورنـــــــــــګزېب زما غړکه

خوشحال خان د پښتنوالي د زاړه عظمت او په هند کښي د لودينانو او سوري پښتنو د شاهنشاهۍ په ياد هر وخت د حسرت اوښکي تويوي او پښتنو ته د خپلو ورکو اخلاقو او ښېګړو توصيه کوي:-

د بهلول او د شېرشــــــــــــاه خبري اروم
چي په هند کښي پښتـــانه وه بادشاهان
شپږ اوه پېړۍ يې هسي پادشـــــــــاهي وه
چي په دوی پوري درست خلك وه حيران
يا هغه پښتانه نور وه دا څه نور ســــــــول
يا د خدای دی اوس دا هسي شان فـــرمان

پت : په پښتو کښي يوه جامعه کلمه ده، چي لو لمن لري، پښتون پر خپل پت سر ورکوي، خان وايي:-

سر دي درومي مال دي درومي پت دي نه ځي
د سړي د چاري ګُل خـــــــــــــــوبي په پت ده

يا:-

چي د ننګ په چارو نر ندی خوشحاله !
که يې نر ويني په سترګـــو هم ماده ده

يو وخت د خان زوی چي نظام يې نوم ۇ مړ سو، خان د ده مرثيه په (۶۰۲) مخ کښي ويلې ده، اما ډېر افسوس کوي چي دا ځلمی کشکي د ننګ په لار کښي مړ وای، ولي چي د تلتك مرګ د پښتانه لپاره پېغور دی:-

کشکي ځوان د پښتانه په ننګ کښي مړ وای
نه چي ګور لره روان سو له تلتـــــــــــــــــکه
چي د قام په ننګ کښي ومړ هـــــــــــغه زويه
په عالم کښي د خپل پلار غاړه کا لـــــــــــکه

نو په پښتنواله کښي هغه مرګ چي د ننګي په لاره کښي وي ډېر ښه دی. خوشحال خان دنيا او ژوندون ټوله ننګ ګڼي، که پت نه وي ژوندون هم نسته، او د پته سره ژوندون که څه هم خوار وي، مگر ساری د پاچهۍ دی:-

جهان شرم نام و ننـــــــــګ دی

که دا نه وي جهان ړنـــګ دی
چي خوشحال باندی ناستی کا
دا پوزی ندی اورنــــــــګ دی

(٥) بډايي او تمول:- په پښتنواله کښي بډايي او تمول خاص د دغه لپاره ده، چي نور استفاده ځني وکي، بخل او کنکي په پښتو کښي نسته، پښتون د ماله سره له دې پلوه مينه لري، چي نور يې وخوري، خان خو هم اباً عنجد سخي او غني سړی ؤ، ده د خدای کوټه مال ټوله د سخا په لار کښي صرف کړی دی، دی وايي:-

چي ګټل خورول بخښل کا ځــوان هغه
چي توره لري د توري خــــــــان هغه
چي يې ته په ګڼډه وخورې حبطه سي
د مجلس سره چي خوړ سي خوان هغه

د خان په نظر کښي بډای هغه څوك دی، چي د ده د ثروت ګټه نور اخلي:-

دولتمن سړی هــــــــــغه بللی بويه
چي له سينده يې جدا د چا واله سي

خوشحال خان وايي چي زه د زرو دښمن يم، او يو ګړی يې نه پرېږدم، ننګيالی سړی خو خپل دښمن تر ځان دمخه کوي، نو ځکه زر زما له لاسه تښتي:-

زه او زر سره له ځايه غـــــــــــليمان يو
په جهان کښي غليمان ســــــــره رغيږي؟
چي غليم د مړني په نــــــــــظر کښېوزي
نور يې زړه د ده و مــــــــرګ و ته پړ کيږي
شاه زلمي به خپل غليم کا تر ځان وړاندي
و نامردو ته په سل حيــــــــــــلې دريږي

٤٧٨ مخ

دا وه ځني خلص مواد چي مورږ د پښتون خوشحال خان تر عنوان لاندي راوړه، ځکه چي دا مضمون ارته لمن لري، نو مو د اختصار په سبب لنډ کی، البته پخپله ويونکي به هم د خان په کلام کښي د پښتنوالي ډېر مزايا مومي[١].

---

[١] طلوع افغان، ١٣١٧ لمريز کال، ١٨مه او ٢٠ مه ګڼه، دوهم مخ.